AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

تاجولي وحدتيار ۲۰۲۳/۰۷/۲۲

# اخوند درویزه او سیدعلي ترمذي د طریقت اهل نه وو

## (بحث پاروونکی دی، د اخوند مدافعین دې راوړاندې شي.)



د روښانیانو په اړه یوه متفق علیه خبره دا ده چې دا خلک په ریښتیني مانا د تصوف پر معنوي او تاریخي ارزښتونو پوهېدل او پښت په پښت له تصوفه سره پاتې شوي وو. د بایزید پلار قاضي عبدالله خپله د سهروردیه طریقې پیرو او د ابراهیم لودي قاضي و. دی فاضل او عالم انسان و. د روښان پلرینه او کرده کورنۍ د بهاوالدین ذکریا ملتاني په استانه هستېدلي او د نوموړي ارادتمنده مریدان پاتې شوي. د بایزید یو تره(خدایداد) په دوړو کې پیري کوله. د ده له وفات وروسته د نوموړي پر مسند د خدیداد زوی او د بایزید تربور( شیخ اسماعیل) کیني. ( دی سړی ته بایزید په لومړیو کې پوره ارادتمندي درلوده، غوښتل یې لاسنیوی ترې وکړي، خو پلار یې نه پرېښود.) د دوی پر وړاندې اخوند درویزه او سیدعلي ترمذي دي. د دوی نسبي شالید او په طریقت کې یې تاریخي پسمنظر ته راځم؛ خو یو شی په لومړیو کې درته وایم، چې دا کوچنی او کمزوری دلیل کېدای شي چې یو څوک دې له اجدادو له طریقته برخمن نه وي، نو نه شي کولی چې په تصوف کې لوړو مدارجو او پوړیو ته ورسیږي. دا زه په نورو دلیلونو زباتوم چې اخوند او ترمذي ولې د طریقت څاښتي نه لري. زموږ یوه استاد(!) یو وخت د لوی احمدشاه بابا او میرویس نیکه په اړه لیکلي و. ما ورته کره چې د دوی ارزښت پر خپل ځای لوړ دی؛ خو دوی ته څمکه تیاره شودیاره شوې وه او دا کار بایزید او خوشال کړی وو. په طنزیه ډول مې ورته ولیکل چې (مادرا بشینه و یک بایزید دیگه بیارا). نه پوهېږم چې زما خبرې ولې خوند ورنه کړ. اصلي بحث ته راګرځم .

روښان بابا یوه متجسسه، سرکښه او ناارامه اروا درلوده. ده د حقیقت موندنې لپاره ډېرې څمکې ګز و ګام کړې؛ خو همداسې تندهغرۍ پاتې شو. پر یوه پیر یې هم زړه اوبه ونه ښبې. په لومړیو کې یې پلار، د شیخ اسماعیل لاسنیوي ته پرېښوده نه او د شیخ ذکریا ملتاني پیري ده نه منله. له پلاره سره یې کشمکش هم له همدې ځایه پیلیږي. روښان سرکښي کوله او دلیل یې وړاندې کاوه چې تصوف په ارث نه اخیستل کیږي او زه باید له هغې چینې خروب شم، چې زړه مې پرې اوبه وځښي. له ډېر تلاښه او پوښتنو وروسته یې هم داسې څوک ونه موند، چې دی ته ورته ګونډې ماتې کړي او په پیرۍ دې یې ونیسي. په پایله کې یې په خپل نوښت د اویسیه تګلارې له لارې روښاني صوفیانه طریقه راباسي او پر دې اړانې د طریقت اته پوره مانۍ لوړوي .

روښان په بشپړه توګه وحدتوجودي پیر و او روښاني سلسله هم وحدتوجودي ده. د بایزید په خیرالبیان کې یې نمونې پریمانه دي او دده مجذوبو پلیونو د خپل فقیر وحدتوجودي افکار په نظم کې پیبیلي. خو د دوی پر وړاندې هغو دوو دا تومنه هیڅ نه درلوده.(دلیلونو ته راځم.) د روښان وحدتوجودي فکر یو، دوه بېلګې له خیرالبیان راخلم:

(( ګوره! ادمیان زما په هستی کې دي او زما هستي ده په ادمیان کې. لکه کب په اوبو کې او اوبه په کب کې.))

روښاني شاعر مخلص د خپل مسکین دا خبره داسې نظم کړې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

هم پکي هم ترې چاپېره
دی ماهي هستي يې آب دی

ماهي هر لور ته چې ګرځي
و اوبو ته يې مآب دی

دا د وحدت‌وجودي فکر زبردسته شرحه ده. يعنې انسان که هر خوا مخ واړوي خپل خالق ويني او دا داسې مثال لري لکه ماهي چې په لوی سمندر کې ګرځي او پرته له اوبو له بل څه سره نه مخيرږي. [فاينما تولوا فثم وجه الله... البقره۱۱۵] يو بل ځای وايي: (( د اسمان ښاښکي د اوبو ښاښکي دي، په يخنۍ کې واوره شي او کله چې پرې لمر راوخيژي، ګرمي ترې مړه شي او اوبه شي. دغسې د انسان ذات د رحمان له ذاته څخه دی. د شک په وجه يې شکل بدل شوی او کله چې ترې شک مړ شي، نو له رحمان ذات سره يوځای شي .
د دې برعکس اخوند او پير يې وحدت‌وجودي نه دي. او له وحدت‌وجود( محوری جهان‌بينی عرفانی وحدت‌وجود است.) پرته تصوف د بې‌روحه کالبوت مانا لري. حتی دوی د وحدت‌وجود پر آره مانا لا خبر نه وو. اخوند درويزه ليکي: (( نن سبا ګمراه پيران(نغوته يې روښان ته ده.) پيدا شوي چې د خدای وجود او صورت ته قايل دي.نعوذبالله) له دې مالوميږي چې ده خوار د وجود له مانا څخه د فزيکي وجود مطلب اخيستی. دی(اخوند) وايي چې دا ګمراه پيران د خدای(ج) او مخلوق مثال په ګياه کې د نم په څېر ګڼي. ( دا لنډکی بحث عبدالحليم اثر افغاني په خپل اثر - روښاني رابطه او روښاني تړون- کې راخيستی(.
ځای- ځای اخوند وايي چې زه له بايزيد سره ستونزه نه لرم. زما ستونزه ورسره پر شرعي ښوونو ده او زه د اهل سنت والجماعت د عقيدې دفاع کوم. حالنکه پَه تصوف کې له شريعت څخه لږ‌وډېره سرغړاندي شته. له دې روښانيږي چې اخوند يو متشرع عالم دی، نه صوفي‌مشربه سړی. دی بل رد پر دې کوي چې ګوندي روښان په خپله صوفيانه تګلاره کې سماع او رقص ته اجازه ورکړې. تاسو يې در وګورئ، له استثنا پرته داسې کومه تصوفي طريقه شته چې سماع او رقص پکې نه و/نشته؟ او دا دوه متنازعې مسلې خو د دې پوتنشيل هم نه لري چې سړی دې د کفر ميدان ته پرې وځښيږي، لکه درويزه چې دا کار کړی. هو. سماع او نڅا په روښانيانو کې وه او دا شی د روښان ايجاد هم نه دی او دا د اهل‌سلوکو مشترک ارزښت دی. بله. بايزيد د خپلې ځيرکۍ له مخې هر ډول سماع ته هم اجازه نه ورکوي. دی يې ډلبندي(حرامه، مباح او روا) کوي او له دې دا روښانيږي چې روښان په خپله راښتې تګلاره کې منځلاري خوښوله .
يو ځای يې په غيبي ندا غندي چې ګوندي دا خو شرک دی. حالنکه دا سير هم نورو سالکانو او د اهل‌طريقت پيروانو تېر کړی .هو. بايزيد ويل چې خيرالبيان د خدای تعالی له لوري زما پر زړه الهام شوی او ادعا نه کوم چې دا دې وحي وي .
بل ځای يې پر وحدت او سکونت مقامونو رانيسي چې ګوندې دا خو سوچه کفر دی .خو دی له دې ناخبره چې دا مقام په نورو صوفيانه طريقو کې هم شته چې هغوی يې په (محو، فنافی الله او بقابالله) نوملې .
د اخوند غټه ستونزه دخپل پير نه‌متابعت ده او په تصوف کې د خپل پير پيروي، د خالق له پيروي کمه نه ده. دی په پوره سپينسترګۍ د خپل پير(پيربابا) په نه‌متابعت تورن دی. ويل کيږي چې هر وخت به له نومووړو سره په شخړو و او خپلې(انا) يې اجازه نه ورکوله چې دی دې د چا لاس لاندې وي. حتی حمزه بابا خو ادعا کوي چې پر پيرروښان لګېدلي ټول تورونه او کفريات د اخوند توليد دي او بيا يې په پوره بېشرمۍ پيربابا ته منسوب کړي. ده په خپل ژوند کې پيربابا ښه کړولی، خو د نوموړي تر وفات وروسته يې وجدان نارام و. وايي چې يو وخت اخوند درويزه د پيربابا يو لمسی په غبړ کې اخيستی و او لوبې يې ورسره کولې چې ناڅاپه وغورځېد او خوله يې وينې شوه. دا حال چې د پيربابا بل لمسي وليد، نو زړه يې پرې وخوږېد او ورته يې وويل بابا! ته موږ بښلې يې. ته تللی شې .وايي چې له دې سره د درويزه روح لږ ارام شو. د اخوند درويزه د پراخې ګستاخۍ له کبله پيربابا تر اخره زړه ښه نه کړ چې ده ته دې خلافت وروسپاري.
د دې برعکس د روښان پيروان د نوموړي له سرومالله تېر سرښندونکي سپاهيان وو چې په هېڅ دليل يې د روښان له متابعته مخ نه دی اړولی. کله چې د روښان بابا د مرګ وخت نږدې شو او سختې تبې اخيستې و، نو ټول مريدان ترې راټول شول او ورته يې وويل چې بايد د وروستۍ سپارښتې په توګه يو څه ورته ووايي. روښان وويل چې زما په زړه چې کوم څه الهام شوي، هغه مې په خيرالبيان کې ليکلي. بخل مې نه دی کړی او نبي او د هغه وارث ته حکم دی چې څه وربانديې نازل شي؛ هغه بايد نورو ته ورسوي .
په دې اړه يوازې يو مورد شته او هغه د روښان د افکارو د علمبردار ( ارزاني خويشکي) دی. اخوند وايي چې له روښانه ارزاني خوابدی شوی، لاره يې تر جلا کړه او مخ پر هندوستان رهي شو. خو د دې اپوټه حالنامه وايي چې بايزيد روښان دی هندوستان ته د علم او معرفت د ډېوې د خپرواي په پار واستاوه. همداشان د ارزاني په هېڅ شعر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

او یا کوم اثر کې داسې نښه نه موندل کيږي چې ارزاني دې له روښانه خوابدی شوی وي او د هندوستان لاره دې يې نيولې وي.
اخوند درويزه به کريغه کړه چې هله اسلام، اسلامي هيواد او د اسلام باچا ته خطر دی. دا سړی( بايزيد) درسره مهارکړئ، فساد جوړوي، فساد!!! اصله خبره دا وه چې اکبر د اسلام له مبين دين څخه مخ اړولی و او يو نوی دين يې جوړ کړی و. خو اخوند يې په اړه سپوڼ قدر هم نه دی کړی او ياده دې شي چې د بايزيد روښان(رح) پر خلاف مذهبي او نظامي محاذونه په يو وخت پرانيستل شوي. له دې هم ښه ترا څرګنديږي، چې له کاسې لاندې نيم کاسه وه. چون اخوند او کسانو يې د روښان بابا د مناظرو زور نه درلود او ويل کيږي چې هېڅ ځای بايزيد په مناظره او بحث کې نه دی پړ شوی، نو اخوند مجبور شو چې تبليغاتو ته مخه کړي او د مغولو د خولو لوډسپيکر شي .
اسلانوف وايي چې زما کلونه کلونه مطالعه او څېړني ښيي چې هېڅ ځای د بايزيد ملاتړ کوم مذهبي مشر، ځمکوال، ملک او خان نه دی کړی. روښاني نهضت په بشپړه توګه يو ولسي خوځښت و او بايزيد به خپله هم ځان عامي ګاڼه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ